مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

مصطفی پسرلی ۲۰۲۲/۰۱/۱۸

غزل

یوازې پېژنې وحشت جاهله!
لېدلی نه شي انسانیت جاهله!

د سپینو حورو په هوس کښې ګوره
جوړوې هره خوا قیامت جاهله!

نه یې له دین او نه له خدایه خبر
بیا هم په ما کړې قضاوت جاهله!

یاست د مارانو، لړمانو خوراک
خوبونه وینې د جنت جاهله!

د مینې رنګ دې په یو رګ کښې نشته
زما نه غواړې امامت جاهله!

ای پسرلیه مرګ له خدایه غواړم
نه منم دغه حکومت جاهله!

مصطفی پسرلی
17/Jan/2022

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ